


Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

د کتاب ځانګړنې:

کتاب نوم : یوه ځولۍ د ګلابونو

راټولونکی : الفت جانان

دیزاین : الفت جانان

بیا کتنه : شرافت نیازی

کمپوز: الفت جانان

پښتۍ دیزاین: سیلاب نیازی

کال: ۱۴۰۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ډالۍ

خپل ګران پلار جان او خوږې مور جانې ته

چې زما په خوښۍ کې خپله خوښي ويني

په مینه ډالۍ کوم!

(c) ketabton.com: The Digital Library

## یوه ځولۍ د ګلابونو باند څو خبرې

اوس زمونږ د هیواد د ادبیاتو په نړۍ کې د ادب ځواني غوټې غوړیږي او د شعر چینې خوټیږي، چې دا کار زموږ له هیلو ډکو زړونو ته خوښي وربښي، د (یوه ځولۍ د ګلابونو) په نوم د شعرونو دغه جونګ چې ستاسو په لاس کې دی. د تنکیو سرو غونچو د خندا یوه څپه ده، چې په غوړېدو به یې زمونږ امیدونه تازه اوتنده به مو پرې ماته شي.

د نوي او زاړه ادب ترمنځه د نږدیوالي غټه وسیله او رابطه هم دا ده چې د ځوانو شاعرانو تازه اشعار د چاپ ډګر ته راووځي، په دې لړ کې غواړو چې د الفت (جانان) له خوا راټوله شوي شعرونه د قدر وړ بولم.

په دغه مجموعه کې تر ډېره هڅه شوې ده، چې د هغو کسانو شعرونه راټول شوي چې تر اوسه پورې زمونږ په مطبوعاتو کې چاپ او نشر یې لږ چانس موندلی دی.

د دې لپاره چې زمونږ ځوان شاعران او ادیبان د بیګانه پدیدو ښکار نه شي او د هغوی له پیروۍ څخه ځان وژغوري نو باید د سبا په هیله د خپل شعر په بڼ کې دې بې مېوې نیالګي کېنوي او باید د هغه چا په شان هم نه شي چې د اوبو په ډکه ویاله کې د تېریدلو لپاره یوازې څو لوټې وغورځوي او یو ځلې پرې تېر شي خو د دویم ځل لپاره نه د ده په درد وخوري او نه هم د نورو لارویانو!

په هر حال مهمه خبره دا ده چې د الفت (جانان) دغه کار د ستاینې وړ بولم او د نېکو هڅو پلوي یې کوم.

په درنښت

شرافت نیازی

۱۴۰۲/۳/۲۰

لغمان، افغانستان

(c) ketabton.com: The Digital Library

# په جانان ځو کرښې

(يوه ځولۍ د ګلابونو) د جانان د شعرونو هغه ټولګه ده چې د شعر له ګلبڼ څخه يې د بيلابيلو شاعرانو غزلونه راټول کړي دي دغه شعرونه چې تاسي يې په دې ټولګه کې لولئ ښايسته په زړه پوري او نوي دي ټاکنه يې غوره ده په لوستلو به يې پښيمان نشی.

هغه څه چې زه يې بايد ووايم.

جانان که له عمره کوچنی دی خو زه په کې داسې لوی خويونه او ستر صفتونه وينم چې په ډېرو لويانو کې نشته د اوچت فکر خاوند دی د فکر زاويه يې لکه سمندر ډېره پراخه ده

ما چې د ده دغه راټولونه وليدله په دې پوه شوم چې د ده راټلونکی بريالی دی د جانان جرات ته مې هيله پيدا شوه چې په دې سختو شرايطو کې او په دومره کم عمر دغه راټولونه کمپوز ډيزاين په خپله کول يو ډول بيل لياقت دی جانان به د علم په ګلبڼ کې لا نور هم لکه ګلاب وغوړيږي او خوشبوي به يې تر نورو وګړو ورسيږي.

د ژوند په ټولو چارو کې د الله (ج) له درباره څخه ورته د اوږد عمر او د لا ډېرو برياووغوښتونکی يم.

په درنښت

سيلاب نيازی

۱۴۰۲/۴/۱

لغمان،افغانستان

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خپلې خبرې

غزل په پښتو ادب کې يو خورا او په زړه پورې ادبي ژانر دی د کميت په لحاظ کوچنی وي خو ارزښت او اهميت په کې زيات وي غزل د پيغام رسونې لپاره تر ټولو ښه ژانر دی.

غزل په اوس وخت کې زياد شمېر مينوال لري لامل يې هم شايد د دغه ژانر په زړه پورې والی وي.

له ډېر وخت راهيسې مې په ډېر ذوق سره د بيلابيلو شاعرانو شعرونه لوستل همدې زوق او مينې دې ته اړ کړم ترڅو د خپلې ادبي تندې د لا خړوبولو په خاطر چې له دغه فورم سره مې لرله د خپل هېواد د ځوانو شاعرانو بيلابيل په زړه پوري غزلونه مې انتخاب او راټول کړل او يو کتاب ګوتې مې ترې جوړ کړه تر څو د غزل د مينوالو مخ ته هم يو څه کېدم چې له لوستلو يې برخمن شي.

هېره دې نه وي دا زما د هيلو څخه يوه هيله هم وه چې زه دې دومره شم چې په کم عمر داسې څه راټول کړم او د کتاب بڼه ولري دا دی خدای(ج) زما دغه ارمان هم تر سره کړ.

ځانګړې مننه له خپل ګران پلارجان او خوږې مورجانې دوې ته به دا کمه وي زه که هر څومره توري او ادبيات راټول کړم له دوې پرې مننه وکړم او حق يې ادا شي همدغو راته د ژوند کولو طريقه زده کړه د لومړي ځل لپاره يې قلم او کتاب لاس کې راکړه او خپلو زده کړو ته يې وهڅولم د ژوند په ټولو چارو کې راسره اوږه پر اوږه تللي او هيڅ يوې ستونزې ته يې يوازې نه يم پريخی نړی نړۍ مننه ترې کوم.

ځانګړې مننه له شرافت نيازي څخه چې د دغه کتاب بيا کتنه يې راته په ډېرې مينې وکړه

د دې کتاب د پوښتې له جوړونکي خپل ګران ملګري وررور سيلاب نيازي څخه چې په مرستو او مشورو يې دغه کتاب (يوه ځولۍ د ګلابونو) تر تاسو در رسيږي ترې يوه نړۍ مننه کوم.

نور مو تر منځ نه خنډ کېږم دا تاسي او دا هم (يوه ځولۍ د ګلابونو)

الفت جانان

(c) ketabton.com: The Digital Library


## غزل

رو رو مـې وچــودېــده زړه لکه غنـم درپسې
ببـــرته راســتون شه لیونیه کنه مــرم درپــسې
چــې بــه خـفـه شــومه او لړ بــه رایاده شولې
څــــه لیونتوب و تــر کابـله به راتلم درپسې
خواږه غږونه خو د اوس هم په واټساپ کې ساتم
بار بار یـــې اورمه بار بار ځان ځوروم درپسې
بــاور دې وشـــه چـــې د کله په کوڅه تېرېږم
دشپې نــاروغــه شــمــه ویــنې تـویوم درپسې
چې ځې خو ځـه کنه فطرته راته ولې ګورې
نـه درتـه غـږ کـــوم او نه اوبه شیـنـدم درپسې

ادریس فطرت

(c) ketabton.com: The Digital Library


## غزل

د دوو سترګو په تاوان به درته وغږېږم
تصویر مې څه کوې په ځان به درته وغږېږم

څنګه یې چېرته یې لالیه زندګي څنګه ده
پوښتنې مه کوه چې وران به درته وغږېږم

ناست انانسره زما شعر واوره لامل څه کوې
سلګۍ سلګۍ ارمان به درته وغږېږم

ته صبر زه له مستو بنګو بېرته زر راځمه
په فرایضو او ایمان به درته وغږېږم

زما قمره له ما لرې یې که وخت راغی نو
په موسیقۍ او یا قربان به درته وغږېږم

شاهد قمر

(c) ketabton.com: The Digital Library


## غزل

پرې تــړل شوی وم اوجود کې به مې اور پېدا شو
ما چې به زور کړ په زنځير کې به هم زور پېدا شو
چـــې وو تــقــوا کــې يــې لـقــب د فـريـښـتې ګڼلی
ياره د داسـې سړي جيب کـې دې انـځور پېدا شو
سـتـا پـه يــوه نـظــر لـيــدو دومـره خوشحال شومه
ته وا د دولسو بې وروره خويـنـدو ورور پېدا شو
يـــاره را ديــخــوا هـغـې ورځې نـه چې ته پېدا شوې
د محبت مرض وبـا شــو كـــور پـــه كـــور پـېـدا شو
بــخـتـيـاره غم هم د ګـيـاه غـونــدې خـاصـيت لرلو
مـا چــې د زړه لــه ځــمـکــې وريبه بيا نور پېدا شو

<u>بختيار نيازی</u>

(c) ketabton.com: The Digital Library


## غزل

بـــد يـــې مـــــه ګـــڼـه ولا د زړه لـه درده راغلـــــه
زمـــا پـــــه خـــولــه درتـــه ښـېرا د زړه له درده راغله

بــلا دې واخـلــمـــه حــېـــرانـــه راتـــه ولـــې ګورې
په ماتو شونډو مې مـــــسـکاه د زړه له درده راغله

زما غزل کې د هـنــــر رنــګـــــونـــه مـــه لـټـــوئ
يوه څپه وه چې پـــه مـــا د زړه لـــــه درده راغـــلــــه

زه خو يوازې يـــم د چـــا پـــه زنـګـانه يې توی کړم
په سپين رخسار مې اوښکه بيا د زړه له درده راغله

کـــريـمــــه ژر بـــه مــــې خـنـــدا باندې را وژباړله
چـــې پـــه مـحـفـل کې به ژړا د زړه له درده راغله

کريم سلطاني

(c) ketabton.com: The Digital Library


## غزل

چې خپـل ځان وګوري او بیا د عشق غمونه سړی
ژونـدی وي پاتې بس د خدای(ج) په قدرتونو سړی
هرڅوک هر وخت کې بدلیدلی شي احتیاط په کار دی
پــه ځــان پسې باید چې روان نه کړي پلونه سړی
مــیـنـــه بــس دا ده مـعشوقې ته چې ګلاب ورکوي
پــه ځـمــکــه ولـګــوي دواړه ځـنــګـنــونه سړی
غـــمـیزه دا ده درک کـوي غلطفهمي شــوې وه
خـــو نـــاســت وي بـیـا هم منتظر وي کلونه سړی
ســتـــا غزل څه دی خو یا سترګې دي یا زلفې زما
هـمـیـمــه داسې بـاید نه وي بــې مضمونه سړی

حافظ همیم

(c) ketabton.com: The Digital Library


## غزل

حـق مــې اده کــه او بیـــا وګـډېــږه
مــچــــه راکــه او بــیـــا وګــډېــږه

د ژونـــد تــر ټـولو زبردسته صحنه
جــانــان پــه خولا که او بیا وګډېږه

شپه نیمايي ده هله زړه مې تنګ شو
کــوټــــه رڼـــا کــــه او بیا وګډېږه

ګیلاس په خـپـلـو لاسو ډک که راته
ما په هوا کـــــه او بیا وګـډېـــــږه

ډمې اول دې د زړه حـــال ووایــــه
ټــــــول په ژړا کـــه او بیا وګډېږه

که ورکتی نــشــې شــرمېږې تربـنه
یــرغــل ته شـــاه که او بیا وګډېږه

**یرغل**

(c) ketabton.com: The Digital Library


## غزل

ژوند د لالي تازه پوستې کړی انځور
جنګ د جــانــان ناځواب کړی مسج

ژوند د زلـمــي په خپله خوښه واده
جنګ په مـیـینه جلکۍ بنه راوستل

ژوند د لالي پـــــه غاړه لاس اچول
جنګ د جانان مړي ته سر شوکول

قدرت الله درمان

(c) ketabton.com: The Digital Library


## غزل

د ژونــد شيبـــو ته په سلګو پاتې يم
ويښنه په نيــمــو نيـــمو شپو پاتې يم

اوس دې په ډک محفل کې نه ستايمه
اوس له ســنـــدرو لـــه ټپـو پاتې يم

مودې شوې لرې له هـمـــزولو يمه
مودې شوې بيله له غونچو پاتې يم

لکه دېوال کې ځـــړېــدلی انـــځـور
دغسې چپ لــکــه تـــابـلـو پاتې يم

ستا د راتلو وعدې کـــاذبــې شولې
زه انـتـظـاره له کــلـــو پـاتـــې يم

ملالۍ کليواله

(c) ketabton.com: The Digital Library


## غزل

تــاتـــه دې هـغـه کـور مبارک وي څو څو وارې
مـــاتــه مــې مـعـلومــې دي د ژوند لپاره لارې
زه درپــســـــې خــپـلـه څــوانـــي نـــه بـــربادوم
زه مخ ته دې ښه شه يارو ولــرې ښــې چــارې
زغم نه خبره وتې ياراني زړه دې راخوږين که
خيــر دی نـــور ودرېــږه د ختــو تيــږو بارې
تل خـو به دې دا ښايسته سمبال درسره نه وي
خدای(ج)به دې په مخ زخې پېدا کړي ګنهګارې
ښـــه نـــو چـــې د بــيـا لـيدلو هيله دې هم نشته
ولـــې تـــه قـــمـــره د لاســـونـــو ګوتې شمارې

شاهد قمر

(c) ketabton.com: The Digital Library


## غزل

هغه کافره اوس غرور په خـــــپل جمال کوي
نه يې خبر راځي نه زنګ او نه مسکال کوي

لکه ګـلاب بانــدې پرېوتی شبنم دغسې دی
د هغې مخ بانـدې څـوانــکې څــه کمال کوي

هم له سيالۍ پاتې هم مينـه مې له لاسه اوځي
غربـت پـه موږ بـاندې کانـې لکـه دجال کــوي

په تګ دې ستا ليونی شـو درپسې سم ليـونی
پـه نـه خـبره له هـر چـــا ســره جنـجال کوي

ولې يې بيا هم په خپل زوی زما نامه کېښوده
فطرتــه ولــې نـــاروا زمـــا پـه حال کـــوي

ادريس فطرت

(c) ketabton.com: The Digital Library


## غزل

پـــرې پـوهــه نـــه شـــم چـی ټپه که کلبمه ولیکم
خـــو یـــوه زړه تـــه ښـــه درنه شان صدمه ولیکم
په تا وېریـږم چـې پنـــځ ډزې بـه دې وخوري رانه
زه په مـنــګـي خو به دې سل ځـله نـــامــه ولیکم
سیتار به غوږ شي له مطرب به ټول راګونه هیر شي
کــه ورتــه زه د شـنـو بـــنــګړیــو مې نغمه ولیکم
زه دې پــه نـــوم بـاندې یادیږم تری تم شوې چېرته
وایــه چـــې مبنې تـه اوس پیـل کــه خاتمه ولیکه
د بلیـنـــدۍ د ژونـــد مـلـګـریــه انتظاره! وایه
درتــه زه پــای او کــه لا نــوره ادامـــه ولـــیـکم

بلینده بدرۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library


## غزل

لــکــه د چـا چې وي څو غبرګ سکني ورونه ولاړ
داســـې کــتـــار راتـــه اشنا وي ســـتا یادونه ولاړ
د خورو زلــفــو دې ســـرخـــي له اننـګو اخستې
که شنو لوګو کـــې دي جــانانه ســره ګـــلونــه ولاړ
په سپــینـــو واوره کـــې داشنه نښتر ولاړ دي اوکه
که مې دی یار په غــونـــډه زنـــه دي خـــالونه ولاړ
سولې! راځه نور دی لاسونه رانه تاوکــړه خیر دی
ســـولـــې! راځـــه زه دې راتـــلـــو ته له پرونه ولاړ
ضرور به ورسیږې خپل مـــنـــزل ته ځکه چې اوس
شـــاهـــده تـــاتـــه پـــه دعـــا دچـــالاســـونه ولاړ

<u>نصرت الله شاهد</u>

(c) ketabton.com: The Digital Library


## غزل

اخـلـمه نامـه پـه خـولــه بیماره د وطن
پـاتې شوه سـنـدره اوس قـراره د وطـن

تندر مو نـېـولـــی رانــه لـمر دی د رڼا
جهل ته مـو خلاصه کـړلـه لاره د وطـن

ګــرځــوم یې داغ په زړه،یادونه زورور!
څـنــګه شــوې تالا رانــه چـناره د وطن

بس ختمه دې په دې وې کیسه یاره د وطن
اوس نه کوي ګلونه هــغـه خاوره د وطـن

نصیر اتل

(c) ketabton.com: The Digital Library


## غزل

ژوند دومره نه شو تم چې واخلم په کې سا کېنم
لکه شبنم اوبه د ګل په شان کینم

دا ستا د نه شتون ارمان هغه وخت دوه چنده شي
دوه نفري څوکۍ وي زه په کې تنها کېنم

داسې به وشي چې نظر ستا په دیدن موړ کړم
ته واه ممکن به وي چې ستا په څنګ کې بیا کېنم

بیا مې د ورک منزل په لوري تکل دی
که اجازه وي څو شېبې به دې تر خوا کېنم

زما یاران چې د دنیا په باب غږېږي نو زه
کریمه غلی یو بغل ته په ژړا کېنم

کریم سلطاني

(c) ketabton.com: The Digital Library


## غزل

زمـا شــوخــي پــه ما کې چغې وهي
وختـه خاموشه هـدیـره دې کــړمــه

ژوند خو مې ټول له بدرنګیو ډک دی
نو څه که ښه ډېر ښــایــسته د کړمه

لرې په کومــو سـترګـو ګورې راته
پرون دې هـېـر شو چې خپه د کړمه

له شنو کـمــرو ســره سر وهـمـه
د عــشـق د غــره د سر ټېه د کړمه

څنګه له پــامـــه دې راوغـورځېدم
مــیــده مـیـده لـکـه شیشه د کړمه

د ښـار پــه هـر ســړي د وپــېـژنــدم
د ډېـرو خـلــکــو نــنـداره دې کړمه

ملالۍ کلیواله

(c) ketabton.com: The Digital Library


## غزل

حس کوم يې نه چې زه په د نيا شته يم
غورځولی دې له فـکـره کـه لـه زړه يم
نيمه خوا دې له بسته دربـــاره راغلـم
دومره صبر دې راکړی چې پرې ښه يم
زه خـو سـتـــا بـه ململې سترګو باچا يم
بې تا څه مـــې دي غزلې او څه زه يم؟
يو ځل ايښی مې داستا په اوږه سر وو!
لا تـــر اوســـه په هـمـاغه ګوټ نشه يم
ژوند مې خوږ لکه انګور چې د ميزان دي
زه مـيـــن چې په سـنــدرې په تـپــه يم

نصير اتل

(c) ketabton.com: The Digital Library


## غزل

ســـت بــه ورتــه نـــه کـوې چې ځي توره بلا پسې
نه ارزي چې پاڼې پـــاڼـــې ولوېـــږي له چـا پسې
پـام يـــې پـــه سـنـدرو باندې هم نه ځي په بله خوا
زړه مې نن خپه دی ســـتـــا د شـونډو په خندا پسې
تــېـرې بـــه شـــي دغـــه زهر زهر د بيلتون ورځې
تورې شپې که هر څومره اوږدې شي وي رڼا پسې
رســـم بـــه ضـــرور تـــر خـــپـل مـــنـزل باوري يم
مورې چې داستا سپېڅلې لپې وي پـــه مـــا پـــسې
ولـــې دې د ژونـــد پـــه نـــيـمايي لار تنها پرېښودم
شه مې د دې مات زړګي ازار کـــريمـــه تـــا پـــسې

<u>کريم سلطاني</u>

(c) ketabton.com: The Digital Library


# غزل

کامل مې دا چې رنګ په خپل جمال مې کړ غزل
پښتون مې کړ په خوی لکه خوشال مې کړ غزل
په شر نګ مې پې راویښې کړ کابل کې دورخانۍ
رښتیا ستا مخور سره چې سیال مې کړ غزل
څه یاد به نو ساتي د تورو غرونو شین خالۍ
سوچه چې پر حیا نو مالا مال مې کړ غزل
ټپې د ملالۍ مې پکې نقش په زرین خیال کړې
(ایوب)مې کړ غزل اوهم (ابدال)مې کړ غزل
چې رنګ مې د بدرۍ ورکړ په تاو د بلینډې
ایله بس په خپل خوی او په خپل خیال مې کړغزل

<u>بلینډه بدرۍ</u>

(c) ketabton.com: The Digital Library


## غزل

زما یې خرپ د خولې خوښیږي په خرپا دې ښکل کړي
مـا ښـکلـوي کـنه مـاشوم دې واخلي دا دې ښکل کړي

بیـا دې پــه ټـول عـمـر پــه چای کـې چینی نه اچــوي
خو داسې چل دې یوه ورځ وکوي چې تا دې ښکل کړي

بیا یې هــم خــاپ د خــولـې وي پاتې ستا په سره اننګي
چې تــا پرې هر څو تاکید وکړې په حیا دې ښکل کړي

تــنــده ددې ســـړي ده هـیـــڅ نـــه مــاتیدونکې تنده
پنځوس مـچـکې یې اخیستي وي او بیا دې ښــکـل کړي

ســتـــا د راوړلــو لـــه خــوښــۍ نــه پــه مننې بختیار
د مور لاسونه خو دې ښکل کړي د نیا دې ښـکـل کړي

<u>بختیار نیازی</u>

(c) ketabton.com: The Digital Library


## غزل

شــومــه پـه دواړو سترګو وړوندهغې جينې پسې
شـــګـــې خـــو خــامــخــا بــادېړي په سيلۍ پسې
د پارک په منځ کې يې ماشــوم لاس نه نيولی وي
سوړ اســـويلی وکـــړي له ډېـــرې مايوسې پسې
زه اوس اکـــثـــره تــنـهايي کې د خدای(ج)ذکر کوم
اوس خــپـــه نـــه يـمـــه پـــه تـبـرې زنـــدګۍ پسې
سترګې مې هغه سې په خپل پرهر کې ښـخـې دي
لاس مې همغه ســـې پولـــۍ پـــولۍ پسې
چې ښه خبـــر يـــې ډاډه ژوند د مرګ بل نوم دی
بـيـــا ولـــې پـــړمخـــې نـــسکــور يـې شبوګۍ پسې

هدايت الرحمن ډاډ

(c) ketabton.com: The Digital Library


## غزل

دې پسې مه ګرځه چې بيا يې څه رقم راوستې
اوګوره څنګه يې د مينې په موسم راوستې

د يار ماشومې مينې څه په ناز مې وپاللې
په پالې پالي او جار جار مې په قدم راوستې

رواجه ومې ښبنه بيا يار ته ورغاړې وتم
غروره ومې ښبنه ته مې ورته کم راوستې

په ما که هره نخره وشوه په تا هم وشوله
زه که په هر عذاب کې ګير شوم ته مې هم راوستې

نن ميکده کې ساقي وويل ابهامه ياره
ګوره اخېر هم د چا ياد او د چا غم راوستې

وصي ابهام

(c) ketabton.com: The Digital Library


## غزل

د زړه بېللو ګناه چا کړې ده ما کړې ده
زړه سره دا نارواچا کړې ده ما کړې ده

زه د دې دور له سیتمه تنګ راغلی یمه
ګنې خپل ځان ته بنېرا چا کړې ده ما کړې ده

راته یې وخندلې زړه مې ورسره کړو لاړه
داسې کمعقله سودا چا کړې ده ما کړې ده

اوس یې په سپینو مړوندونو باندې خوب څوک کوي
او پسې شپه ورځ ژړا چا کړې ده ما کړې ده

د انقلاب په سختو شپو کې هم د زړه له زوره
ارمانه کړس کړس خندا چا کړې ده ما کړې ده

خالد ارمان

(c) ketabton.com: The Digital Library


## غزل

په ځان ډارېږي هم او پټه له بارانه شي
راته راوګوري په یو دوه کې حیرانه شي

پښتو دې سر وخوري پښتو باندې دې خاورې واوړي
مینه د تا وي او د بل چا کور ودانه شي

که په هغې کیږي او هغې باندې غم راځي
په ما دې راشي او په ما باندې دې ورانه شي

ولې یې نه سړي ته خپله پښو ته وغورځوو
ښکلو ته ولې سلامت زړونه ارزانه شي

فطرته تم شمه که ګوندې راته غېږ وکوي
خو دا خپل زوی له لاسه ونیسي روانه شي

ادریس فطرت

(c) ketabton.com: The Digital Library


## غزل

خـــيـــال کــې مې تل اوسي او زړه ته مې هم لار کوي
دا ځــيــنــې خـــلـک په ما ځومره سخت ګـوزار کوي
د خــپل وجود د هــرې هيـــلـــې په مـــرګ غلې شي
مــجــبـور پــيـغـلـه چې د خـان په کـور کې کار کوي
هــغــه دې خـــپـل نازونه وشميري هومدومره به وي
څــوک چــې زمـــا په زړه داغـونه ګورۍ شمار کوي
خدای (ج) خبرکوم درديې مجبوره کړ په دې چې هغه
پـــه ســيــنه لاس کيږدي پـــه مـــا چـــې کله وار کوي
هــســـې نه بل يې درنه خپل نه کړي بې لوظه به شې
شـــــاهــد لـــه څــــومــــره جـــانه تـــاته انتــــظار کوي

نصرت الله شاهد

(c) ketabton.com: The Digital Library


## غزل

دوکه بازي د دروغجن عشق د کيسې نه پس
هيلې مې مړې کړې له دې لوې ډرامې نه پس

درپسې ويلې شوم څـلـورو خواو ته ولوېدلمه
شمعه خو حتماً ويلې کـېـږي له لمبې نه پس

هر انسان وي تر خپل مطلـب درنه بېرته ځي
زما قسم دی نور زړه نه تـړم له دې نه پس

اوس هم همغه سې جنت په خـوب کې وينمه
يمه همغه سـې ويـده سـتـا د اوږې نه پس

چې شبوګۍ نـاروغه شوې ده زه هم ښه نه يم
زړه مې مات شوی دی ډاډيـه له هغې نه پس

هدايت الرحمن ډاډ

(c) ketabton.com: The Digital Library


## غزل

له تانه وروسته مې که ورځ ده او که شپه ده والله
یــوه بـــې ســـوره تنـــهایي په کې خوره ده والله
یاران مې وپـښتي چـــې اوس د زندګي څنګه ده
زه هم په مات زړه ورته ووایمه چې ښه ده والله
زما د زړه د مــاتــولـــو اداء هــر څوک کوي
خو ته دا ومنه چـې ســتــا په شانـــي نه د والله
له حده واوښتـــو د ژونـــد او روایـــاتـــو جـبر
ملـــګـــریه نـــوره مـــې تمـــامه حوصله ده والله
تا په کتاب کې راته ایښي ګـــل ته اوس هم ژاړم
او راته یـــاده ده ستا یـــوه وعـــده ده والله

وصی ابهام

(c) ketabton.com: The Digital Library


## غزل

چرته لاړ شـمـه پـه یو دوه کې حیران وم
پـــردی ښـــار وه پکې ځکه سرګردان وم

یـو ډبـره بـه وم ایـسـته به پـرته وم
ښـه بـیـغـمـه به له هیلو له خپګان وم

دجـانـان غـمـه تـا ولـــې ووژلـم
دجـانـان غـمـه کـافـر نه مسلمان وم

خـلـک یـارپـسې نشه کړي خودکوشي کړي
زه پـه خـپـلـو انـدامـونـو مـهـربان وم

داسې ړنګ نه ومه څنګه چې مړ ومه ګوهره
او پـه خـپـلـې جـنـازې پـسـې روان وم

ممتاز ګوهر

(c) ketabton.com: The Digital Library


## غزل

لکه د فلـــم ادا کــار څومره د ښــې وکــړې
څه په هنر او چل دې څه رقــم دوکــې وکړې

هلته واده دی دلته زه له ډېره درده مـرمـــه
څه ناروا وې اوف د فـلــم دې صـحـنـې وکړې

مــا لــه اولــه هیڅ د بل مخ ته هم ونه کتل
تا لکه ډمې بې حـســابــه یــارانــې وکــړې

هـغـه یــو زه وم چې په تاپسې مې ساه وتله
تا په بې غمه زړه د بل غېږه کې شپې وکړې

فـطـرتــه مــا د خپل جسد جنازه خپله یوړه
ما یې واده کــې ښــه ګــډا وکــړه ټپې وکړې

<u>ادریس فطرت</u>

(c) ketabton.com: The Digital Library


## غزل

عقل سود په سود سودا ده خو د زړه کیسه جدا ده
کـــه روا کـــه ناروا ده خو د زړه کیسه جدا ده
هـغـه ژاولې په کړس ژوي زه کرل ریبل کوومه
کـــور ودانه د بل چا ده خو د زړه کیسه جدا ده
ته خبر په بې خبریو څوک به څومره ګنهګار وي
خدایه ږیره خو زما ده خو د زړه کیسه جدا ده
د حـیـــا په زنځیرو مې خپل زلمي هوس تړلي
ښه پوهېږم چې ریا ده خو د زړه کیسه جدا ده
پله هر څومره که تېز شي تر قمره نه رسیږي
تا سره د قام سودا ده خو د زړه کیسه جدا ده

عبدالمجید پل

(c) ketabton.com: The Digital Library


## غزل

لاسونه د غربت يې تر ګريوان راغلي دي
بازار ته يوسف مخي څه ارزان راغلي دي

په زخم مې چړې وهي او مالګې دوړوي
خبر شومه هغې ته ريباران راغلي دي

په ژوند کې مې د داد او د پوښتنې هيڅوک نه وه
اوس مړي ته مې دوه زره ياران راغلي دي

ته صبر چې لږ مينه د هغې کړمه پرې ماته
ته صبر زموږ کور ته يې بچيان راغلي دي

له شونډو نه يې غاښو کې پترکي بيلومه
خواره واره يې ما باندې زلفان راغلي دي

فطرته زړونه هر چا د ښايسته و ښار ته يوړل
سره له خپلو زړونو په تاوان راغلي دي

<u>ادريس فطرت</u>

(c) ketabton.com: The Digital Library


## غزل

ټول وجود مـــې داسې زېړ لکه د مړه شو
د نـــاکام محبت یـاد مـــې را په زړه شو

نـــاګـهـانه مـې نـــن درد په زړګي راغی
نـاګـهـانـه مې نـن پـام ستاســو په ور شو

خو ویـل به دې چې خدای(ج)دې لیونی کړه
لیونی شـوم زړه دې یخ شو زړه دې ښه شو

هـــره هـیـله دې نـصـیـب درته زندۍ کړه
یو ارمان دې هم زړګـیـه پـوره نــه شـــو

بـیـا لـــه مــا خـخه چـــا دا پوښتنه وکړه
پل خو اوس اوس تاسره وو چې اوس څه شو

<u>عبدالمجید پل</u>

(c) ketabton.com: The Digital Library


## غزل

روژه ته مه نـيسـه فـرض نـده په وږو باندې

ملا به دې ماتـه شـي غـر مـه اخله اوږو باندې

دبرات شـپه سپينه سپوږمۍ زمونږه دواړودېدن

پـنـځـلـسمـه راخـتـلـې پـه کـورو بـانـدې

په نوي کال کې دسخي صاحب زيارت ته که تلې

ځـو نـظـرمـات خالـونه ګـده پـه اننګو باندې

ممتاز ګوهر وۍ زه بـغير له تا ژونـد نشم کوی

درته قسم خورمـه پـه ټـولـو سپـارو بـانـدې

<u>ممتاز ګوهر</u>

(c) ketabton.com: The Digital Library


## غزل

پـــه دې دومـــره ډېـــرو خلکو کې بې یاره
زما حق دی چـــې لـــه ژونـــده شـــم بې زاره

وخـــت پـــه داســـې ځلـــور لارې ودرولـــی
د منزل پـــه لـــوري نـــشـــتـــه یـــوه لاره

چـــې د جـــونـــو د تـــعـلـیـــم په قدر پوه شي
خدای(ج)دې ستا مېرمن ناروغه کړي سرکاره

مـــخ دې ونـــیـــســـه پـــه لـــپـــه کـــې وګوره
هـــســـې خـــوشـــې دې بـــدنـــامه کړه هنداره

لکه تـــــه وطـــنه زه داســـې ګـــړنګ کې
هیڅ ځوک لاس نه راکوي د خدای(ج) لپاره

د یار فـــکـــر ســـړی ســـمې خوا ته یوسي
د ژونـــد فکر سړی وباســـي لـــه کـــــاره

ســـتـــا پـــه لـــټـــه کـــې د کـــلـــي نه تر ښاره
راغلم چـــبـــرتـــه یې زما د مـــیـــنـــې یـــاره

عبدالمجید پل

(c) ketabton.com: The Digital Library


## غزل

څـــومـــره ګـــمـــنــامې او بدنامې مې نغمې پـاتې شوي

د ژونـــد پــر مــخ مې خود بې زوقه افسانې پاتې شوې

لــه نـــزاکــت يــې د نــمـجـنو ســتـــرګــو چوپه شومه

ورتـــه پـــه زړه کـــې مـــې بلها بلها قيصې پـاتې شوې

اوس هـــاغـــه نـــه يـــم د دوران مې هسې پاتې داستان

په مـــثـــالو کـــې يـــې يـــواځـــې نـــښـــانې پاتې شوې

اوس په چـيـنــه کې څوک مسکۍ او څوک ژړغونې وايي

بـــــدرۍ واده تـه دې د ګـوتو په شمار شپې پـاتې شوې

<u>بلينده بدرۍ</u>

(c) ketabton.com: The Digital Library


## غزل

ښه مې پرې خوشحاله کړ خپل زړه باران ته ایښی وو
څـاڅـکـي مـې دې تېر يو بارانه باران ته ایښی وو
ساه مې يې زړګی مې يې ځيګر مې يې او تن مې يې
دا لـفـظـونـه چـا پـه کـاغذه بـاران تـه ايښي وو
ولـــي دې لـــرلـــه د هــغــې نــه د اظهار تمه
ولې کـانې تـا د پـورې غـره بـاران ته ايـښـي وو
پـوه شـوه اخـر د خـپـل نـاکـام مېين په قدر يې
نن يــې تـصـويـرونه د واده بـاران ته ايـښـي وو
ټوله شـپـه مـې خوب بختياره سترګو نه په تيښته و
شـوخ يـار لګنونه د کـاله بـاران تـه ايـښـي وو

<u>بختيار نيازی</u>

(c) ketabton.com: The Digital Library


## غزل

پــټ مـیـیـن شـــوی یم ژړا کې مې مرۍ بنده شي
لکه یتیم غـــوندې مې ستوني کې سلګۍ بنده شي

چــې مـخــامخ شم ورته یو دم داسې چوپ پاتې شم
لکه د ښکار په وخت ټوپک کې چې ګولۍ بنده شي

زړه مــې ســیـنــه کـــې ورپسې داسې ټوپونه وهي
لکه د دواړو پښو نـــه دام کـــې چې مـرغۍ بنده شي

چې یار را یاد شي باور وکړئ ساه ایستـلــی نـشم
لکه له چا د حلق په منځ کې چې مړی بـــنـــده شـي

بیګاه مې خوب ولید په مینه کې په دار زوړند شم
لکه صــدام پـــه شـــان مې غاړه کې رسۍ بنده شي

ما شګیوال پرهېز اخر مـــیـنـــه کې داسې ګیر کـړه
لکه په جال او یا په دام کې چې هـــوسۍ بنده شي

پرهېز شګیوال

(c) ketabton.com: The Digital Library


## غزل

انتظار به دې تر کومې پورې وه کړو
د راتلو په تمه تمه دې اوبه کړو

کته مته د حمزه بابا غزل يې
ته لا څوانه يې او مونږه دې زاړه کړو

د لالي په بې ننګۍ خبرې کيږي
(موږ به غلي شو غوږونه به کاڼه کړو)

ټيټې سترګې خپلو هيلو ته ولاړ يو
که جنت ته هم څو بيا به مينه نه کړو

<u>**ريحان**</u>

(c) ketabton.com: The Digital Library


## غزل

خــوښ مــې ده پــه ټوله پښتونخوا کې يو نفر
غــــوارمـــــه يــې هــــره شپه دوعا کې يونفر
سم شوم دجنت له مـيــوه جـاتـــو بـــرخـمـن
کــلـــــه چــې مـــې ولــيــده خــنـدا کې يو نفر
مـــال او دولـــت نــغـــوارمـــه ټول ترې صدقه
راکـــه پـــه څـلـــور کـنجـنه دونيا کې يو نفر
هــيخ نـــه وه د دغـــه کـاغذي ګلاب خـوشبو
اســې مـــې ســـاتــه د زړه کـلا کـــې يـــو نفر
خدای(ج) شاهد ده نه مې وي ګوهره د شپې خوب
کــومـــه ورځ چـــې وويـنـــم ژړا کـــې يـــو نفر

ممتاز ګوهر

(c) ketabton.com: The Digital Library


## غزل

زمـــا پــــه نـــوم يــې مړه کړه خو په لاره ګډېده

اى دلـتــه يـــو جينـــۍ وه چـــې تر داره ګډېده

راوبه لـوبــده مـــاتـــه بـــه شوه نه پوهېږم ولې

چې ستا مخ بـــه يــې وليده هـــنــداره ګـــډېــده

د ورور واده يـــې هـــســـې بـــهـــانه وه د ګډېدلو

هـــغـــه کـــه ګـــډېـــده د چـــا لـــپـــاره ګـــډېـــده

بيګاه مې سـتـا له شونډو سره لاړې کړلې تېرې

نـــشـــه مـــې پـــه وجـــود کې تـــر سهاره ګډېده

د دې ډمـــې په سترګو کې څه ډېرې فلسفې وې

دا ډمـــه بـــه ضـــرور د چـــا لـــپـــاره ګـــډېـــده

ريحانه سره غرمه د سرک غاړه وه او زه ووم

خـــولـــه مـــې د تـــنـــدي له انـــتــظـاره ګډېده

ريحان

(c) ketabton.com: The Digital Library


غزل

اګــاهـــي مـــې د يــو چـا پسـې کــــوله
ژوند که چـيغـه واى، مـا تـا پـسـې کــوله
چې موړ نه واى، څه ارزان بـه واى د ښکلي
قـــران کـــه تـکـــى چا حـــيـا پسې کوله
چـــې دعـــا يـــې سـلامـــت سر و، ساتلـى
نـــن هـغــې نـجلــۍ ښـيـــرا پـسې کوله
لکه زه داسې برباد مه شـه څـوک دومــره
ځـــان مـــې پـــرېـــښـودم، ما ژړا پسې کوله
اوس مې دومره له زړه لـېـرې غـورځـولى
چــې چـــا يـــاد کـــړ، مـــا بـــلا پسې کوله

نصير اتل

(c) ketabton.com: The Digital Library


## غزل

زه بې نـامـې شــوم د غـرور له بامه پرېوتمه
دنيا به څه کـړم چې ســتـا له پامه پــرېــوتــمــه
مينې پــه غبرګو وړوند کړم بيا يې تنها پرېښودم
تــه خــو لاس راکنــه د يـــار الـــزامــه پــرېوتمه
ته خبر هم نه شوې خو زه وم چـې فـنا شوم کـنه
زه که يو څو څاڅکي ستا د زړه لـــه جامه پرېوتمه
نور به مــې تــاب د زنـــدګۍ د چـــارو نه درلوده
په بــســتــره کــې بــه لـــه تــور مــاښامه پرېوتمه
له حده زه د ژونـــد له جــبـره ستړی شـــوی يمه
ښــه شــوه چــې ستـا غيږې ته ښه ارامه پرېوتمه

وصي ابهام

(c) ketabton.com: The Digital Library


## غزل

نــه ځــان ته ګوري نه بیا غږ د بل سړي اوري
انسان چـــې مات شي بیا غمجنه موسیقي اوري
عـشـق زهـرجـنه ډوډۍ ما تر ستوني تېره کړله
زه چا درک کړی یمه څوک زما زګېروي اوري
بلکل مېین دی خـــو پـــه مینه کې مات شوی دی
که څوک جکجیت کمار ســـانو هــر ماښام اوري
محفل ته راغله چې زما نوبت د شــعـر راغـلـو
ویــــل یـــې څــوک د لـیـونیـانو شاعري اورې
کـــه شــبـو نــشـته خـــــو دا ومنــه ډاډیه یاره
چې د زړګي څــړیــکـې دې ښې سمې سیي اوري

<u>هدایت الرحمن ډاډ</u>

(c) ketabton.com: The Digital Library


## غزل

زمــوږ تـــمـــه څــه وي څــه راسره وشـي
ارمـانونه مـو زمـوږ مــخــې تــه مـړه شــي

ژونــد د فـلـم وروسـتـۍ شـیـبـې تــه ورتــه
هلـک مـړ شــي جلـۍ بـل چـاتــه واده شي

دا یــو زوی یـې سـخـت هغې ته ورته شوی
زړه تی جوخت کړمه که ګوندې زړه مې بنه شي

خـیـر پــه مـا بــانــدې دې ګرده نړۍ واوړي
خـو پـــه هـغـې د ان ګـرم بــاد رانــه شــي

ځــۍ یـــو ســوال مـهـربـانـۍ لـه مخې وکړۍ
چې فطـرت ابــدي خــوب بــاندې ویـده شـي

<u>ادریس فطرت</u>

(c) ketabton.com: The Digital Library


## غزل

ولــــې ســولــوې نــو تــه اورونو باندې ګوتې
مـــه کـــاږه د زلـفـو په ســرونو باندې ګوتې

ستا یوه همـــنـــامـــه بـــرنـــامـــه کې غـږوم
اوف لکه وهـــي چې مې زخمونو باندې ګوتې

زه او تــــه بــه نــه یـــو ځـــای کېدو ګنې ولا
کش مـــې کړلې ډېرو زیارتـونـو باندې ګوتې

شاهد قمر

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**